# فضل الدعاء وآدابه والأوقات التي يستحب فيها

# د دعا فضیلت او آداب او هغه وختونه چې دعا کول پکې مستحب دي:

## د دعا فضیلت او آداب او هغه وختونه چې دعا کول پکې مستحب دي:

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، أما بعد:

یقینا دعا له هغو لویو کارونو څخه ده چې بنده پرې خپل رب ته نږدې کیږي، او دعا غوښتل دلیل دی په عاجزي کولو د بنده خپل رب ته، او پر خپله کمزورۍ د هغه اعتراف ده، ناچارۍ او خوارۍ د خپل رب پر وړاندې، حال دا دی چې انسان ته پرته د خپل رب له مرستې او کومک نه بله چاره او لاره نشته؛ او له دې وجې نه الله تعالی هغه څوک چې دعا غوښتل پرېږدي، کبرجن بللي، الله فرمایي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾

او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم، یقینا هغه کسان چې لویي کوي زما له عبادت څخه خامخا به جهنم ته ذلیل (خوار) ننوځي.

سورت غافر آیت نمبر 60

او رسول الله صلى الله علیه وسلم خبر ورکړی، چې بېشکه دعا عبادت دی، او دعا د مومن هغه وسله ده چې په سختیو او مصیبتونو کې پرې مرسته حاصلوي، او په دې (دعا) د بنده او د هغه د کورنۍ حالت په دنیا او اخرت کې سمیږي.

او دا د قرآن کریم او د صحیحو نبوي دعاګانو یوه ټولګه ده، سره د ځینو پناه غوښتونکو دعاګانو او مبارکو نبوي اذکارو، چې په دې لړو پاڼو کې مو را ټولې کړي دي؛ چې مسلمان ورته په هر وخت کې زیاته اړتیا لري، نو مونږ له الله

تعالی نه دا دعا کوو، چې په دې سره د دې دعاګانو راټولوونکي او ویونکي ته ګټه ورسوي.

وصلی الله وسلم وبارک علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعين.

لومړي: د دعا فضیلت:

(الله) تعالی فرمایي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾

(او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم).

سورت غافر آیت نمبر 60

او (الله) تعالی فرمایي:

﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾

(آیا څوک دی هغه ذات چې قبلوي د ډېر ناچاره دعا کله چې یې راوبلي، او لرې کوي مصیبتونه، او ګرځوي تاسو خلیفګان د ځمکې، آیا شته دی بل څوک لایق د عبادت له الله تعالی سره، تاسي ډېر لږ نصیحت قبلوئ).

سورت النمل: آیت نمبر 62.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

"الدعاء هو العبادة"

(بېشکه دعا عبادت ده)

بیا یې دا آیت ولوست:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾

(او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم).

سورت غافر: آیت نمبر 60.

صحيح

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

"ليس من شيء أكرم على الله تعالى من الدعاء"
(له دعا پرته بل شی الله تعالی ته ډیر عزتمند نه دی)

حسن

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

"إن ربكم حييٌّ كريم يستحيي من عبده إذا رفع يديه إليه أن يردهما صفراً"
(بېشکه ستاسو رب ډیر حیاناک او کریم ذات دی، له خپل هغه بنده نه ورته حیا (شرم) ورځي چې لاسونه ورته (د دعا لپاره) پورته کړي او هغه یې ورته خالي واپس کړي).

صحيح

**دوهم: د دعا آداب او د هغې د قبلېدو لاملونه:**

1- یوازې الله تعالی ته اخلاص، او له نورو مخ کرځول.

2- باید د الله تعالی په صفت او ثنا ویلو دعا پیل شي، بیا وروسې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووایي، او په همدې یې ختمه هم کړي.

3- پوره ډاډ (یقین) او د زړه حضور په دعا کې او په دې یقین ولري چې دعا یې قبلیږي.

4- په دعا کې زارۍ کول او له عجلې (بیړې) څخه ځان ساتل؛ د دې حدیث په رڼا کې:

"أنا عند ظن عبدي بي فليظن بي ما شاء"

((زه د خپل بنده د ګومان مطابق له هغه سره یم، نو چې څنګه یې خوښه وي، پر ما دې ګومان وکړي)) صحیح

5- باید په خپل خوراک، څښاک او لباس کې د حلالو شیانو کوښښ وکړي.

6- خپل اهل، عیال، مال، بچو او ځان ته دې ښېرا (بدې دعا) نه کوي.

7- په ټیټ آواز دعا کول، د پټ او لوړ آواز تر منځ.

8- پر ګناه اعتراف کول او د هغې بخښنه غوښتل، او په نعمتونو باندې اعتراف کول او پر هغو د الله تعالی شکر ویستل.

9- د دعا د قبلېدو وختونه ثارل، او له هغو حالاتو او ځایونو ګټه پورته کول چې د دعا قبلېدو ګومان پرې کیږي.

10- قبلې ته مخ کول، او په دعا کې لاس اوچتول.

11- د ګناه په کار او د خپلولۍ (صله رحمۍ) په پرېکولو دعا نه کول.

12- له توبې سره سره، په ظلم د اخیستل شویو شیانو بېرته ستنول.

13- په دعا کې الله تعالی ته د هغه ښایسته نومونه او لوړ صفتونه وسیله کول.

14-باید له الله تعالی څخه هر کوچني او لوی حاجت وغواړي.

15- باید هڅه وکړي چې هغه دعاګاني وغواړي کومې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم غوښتلي؛ ځکه چې دا د جامعو (تول معنا) دعاګانو څخه دي.

دریم: هغه وختونه، حالات او ځایونه چې دعا په کې قبلیږي:

1- له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

"ينزل رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ؟"

(زمونږه رب تعالی هره شپه د ځمکې آسمان ته را کوزیږي، هغه وخت چې د شپې دریمه وروستنی برخه پاتې شي، او فرمایي: څوک شته چې له ما څخه دعا وغواړي چې ورته یې قبوله کړم، څوک شته چې له ما څخه سوال وکړي، چې ورپې کړم، څوک شته چې له ما څخه بخښنه وغواړي، چې بخښنه ورته وکړم؟)

صحیح

2- د فرضي لمونځونو لپاره د اذان کولو پر مهال، او د اذان او اقامت ترمنځ.

3- له اودس کولو وروسته، کله چې هغه دعا ووایې کومه چې حدیثو کې راغلې.

4- په سجده کې د لمانځه پر مهال؛ د دې حديث له مخې:
"أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد؛ فأكثروا من الدعاء"
(هغه حالت چې بنده په کې خپل رب ته ډېر نږدې وي، هغه د سجدې حالت دی؛ نو تاسو زياته دعا وکړئ)
صحيح

5- د پنځه ګونو لمونځونو په پای کې له سلام ګرځولو وړاندې او وروسته.

6- د جمعې په ورځ کې يو وخت دی، او راجح قول دادی چې هغه له لمر پرېوتلو وړاندې د مازديګر آخري وخت دی.

7- د زمزم اوبو د څښلو پر مهال، له پاک او رښتيني نيت سره.

8- د باران ورېدلو پر مهال.

9- له الله تعالی نه د هغه په لوی نوم (اسم اعظم) سره د دعا غوښتلو پر مهال هغه چې دعا پرې وغوښتل شي قبلوي يې او چې څه پرې وغوښتل ورکوي يې.

10- د حاجي او عمره کوونکي دعا.

11- په حج کې د کوچنی او منځنی جمرې ترمنځ دعا.

12- دعا غوښتل په طواف کې، او په صفا او مروه باندې، او د دې دواړو ترمنځ د سعې پر مهال.

13- د عرفې په ورځ، د عرفې په ميدان کې دعا.

14- د مسافر دعا.

15- د روژه دار دعا تر هغه چې روژه ماته کړي، او د روژه ماتي پر مهال.

16- د حاجتمند دعا.

17- د نيکي کوونکي بچي دعا خپل مور او پلار ته.

**څلورم: قرآني دعاګانې:**

﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (127) رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (128)﴾

(ای ربه زمونږ! له مونږ نه قبوله کړه، بېشکه ته د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهه يې (۱۲۷) اې زمونږ ربه! وګرځوې مونږ غاړه اېښودونکي تا ته، او زمونږ له اولادې نه يوه ډله غاړه ايښودونکي تا ته، او مونږ ته زمونږ د بندګۍ لارې وښايه، او مونږ ته بخښنه وکړه، بېشکه ته توبه قبلوونکی رحم کوونکی يې(۱۲۸))

سورت بقره: آيت نمبر ۱۲۷-۱۲۸.

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

(ای ربه زمونږ! راکړې مونږ ته په دنيا کې ښکلی ژوند او په آخرت کې هم ښايسته ژوند، او مونږ د جهنم له اور څخه وساته).

سورت بقره: آيت نمبر ۲۰۱.

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ﴾

ای ربه زمونږ! مه کږوه زړونه زمونږ وروسته له هغې چې تا مونږ ته هدایت وکړ، او مونږ ته له خپل لوري رحمت راکړه، بېشکه یوازې ته بخښنه کوونکی یې.

سورت آل عمران: آیت نمبر ۸.

﴿رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

(ای ربه زمونږ! بېشکه مونږ ایمان راوړی، نو مونږ ته زمونږ د ګناهونو بخښنه وکړه، او د اور له عذابه مو وساته).

سورت ال عمران: آیت نمبر ۱۶.

﴿رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ * رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾

(ای ربه زمونږ! نو مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او زمونږ بدی له مونږ څخه لرې کړه او له نېکانو سره مو وفات کړه (۱۹۳) ای ربه زمونږ! مونږ ته هغه څه راکړه چې تا له مونږ سره د پیغمبرانو پر ژبه ژمنه کړې ده، او د قیامت په ورځ مو مه خواروه، بېشکه ته د خپلې ژمنې خلاف نه کوې.(۱۹۴)

سورت آل عمران: آیت نمبر ۱۹۳-۱۹۴.

﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾

(ای ربه زمونږ! ظلم کړی (نقصان کړی) مونږ پر خپلو ځانونو، او که ته مونږ ته بخښنه ونه کړې او پر مونږ رحم و نه کړې، نو بېشکه چې مونږ به له زیان کوونکو څخه شو).

الاعراف: آیت نمبر ۲۳.

﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾

(ای ربه زمونږ! راکړه مونږ. ته زمونږ له مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو یخوالی او مونږ د متقیانو لپاره پیشوا وګرځوئ.

سورت فرقان: آیت نمبر ۷۴.

﴿رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾

(ا ربه زما! ما ته له خپل لوري پاکه اولاده راکړه، بېشکه ته د دعا اورېدونکی یې).

سورت ال عمران: آیت نمبر ۳۸.

﴿رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾

(ای ربه زما! بخښنه او رحم وکړه او ته غوره رحم کوونکی یې).

سورت مومنون: آیت نمبر ۱۱۸.

﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ * رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ﴾

(ای ربه زما! ما پر لمانځه همېشنی (پابندي کوونکی) وګرځوه، او زما له اولادې هم، ای ربه زمونږ! زما دعا قبوله کړه (۴۰) ای ربه زمونږ! ماته، زما مور او پلار او ټولو مومنانو ته بخښنه وکړې په کومه ورځ چې حساب کیږي.((۴۱))

سورت ابراهیم: آیت نمبر ۴۰-۴۱.

﴿رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ * وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ﴾

(ای ربه زما! تا ته پناه دروړم د شیطانانو له وسوسو څخه (۹۷) او تا ته پناه دروړوم ای ربه زما چې ما ته دوی حاضر شي (۹۸)).

سورت مومنون: آیت نمبر ۹۷-۹۸

﴿رَبِّ هَبْ لِي مِنْ الصَّالِحِيْن﴾

(ای ربه زما! ما ته د نېکانو له ډلې نه (ځوی) را وبخښې).

سورت صافات: آیت نمبر ۱۰۰.

﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾

(بېشکه زه په تکلیف (مرض) اخته شوی یم، او ته تر ټولو ډېر رحم کوونکی یې)

سورت أنبیاء: آیت نمبر ۸۳.

﴿رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾

(ای ربه زما! ما ته وس راکړي چې ستا د هغو نعمتونو شکر وباسم چې تا پر ما او زما پر مور او پلار دي (پیرزو) کړي، او (هغه) نیک عمل وکړم چې ته پرې رضا کېږې، او زما اولاده صالح (نېکان) کړه، بېشکه ما تاته توبه کړې او یقینا زه د پوره غاړه اېښودونکو (حکم منوونکو) څخه یم).

سورت احقاف: آیت نمبر ۱۵.

پنځم: مسنونه دعاګانې:

"اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلْ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلْ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ"

(يا الله! ماته زما دين سم (برابر) کړه، هغه چې زما د هرې چارې ساتونکی (بچ کوونکی) دی، او ماته زما دنیا سمه (برابره) کړه، هغه چې زما ژوند په کې دی، او ماته زما آخرت سم (برابر) کړه، هغه چې زما ورته بېرته ګرځېدل دي، او ما ته ژوند د هرې ښېګڼې د زیاتوالي لامل وګرځوه، او مرګ زما لپاره له هر شر څخه د راحت او آرام لامل وګرځوه)

صحيح

"اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ"

(يا الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دی، او له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی، نو ما ته له خپل لوري بخښنه وکړه، او پر ما مهرباني وکړه، بېشکه یوازې ته بښوونکی او رحم کوونکی یې)

(صحيح). دا دعا رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ښودلې وه، چې په لمانځه کې دا دعا وغواړي.

"اللهم اجعل في قلبي نورًا، وفي بصري نورًا، وفي سمعي نورًا، وعن يميني نورًا، وعن يساري نورًا، وفوقي نورًا، وتحتي نورًا، وأمامي نورًا، وخلفي نورًا، واجعل لي نورًا"

(يا الله! زما په زړه کې رڼا پيدا کړې، او زما سترګې، او غوږونه روښانه کړې، او زما ښی او ګس (چپ) لوری رڼا کړې، او له ما پورته او له ما ښکته رڼا پيدا کړې، او زما مخه او زما شا رڼا کړې، او ما ته رڼا راکړې).

(متفق عليه). رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې سره په لمانځه کې دعا غوښتله، او يا په سجده کې به يې دعا غوښتله.

"اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ، وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ مِنْهُ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ تَقْضِيهِ لِي خَيْرًا"

(يا الله! زه له تا څخه ټول بېړنی او وروستنی خير غواړم، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې ناخبره يم، او تا ته پناه دروړم له ټول بېړني او وروستني شر څخه، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې نا خبره يم، يا الله! زه له تا څخه د هغه خير غوښتنه کوم چې له تا څخه ستا بنده او پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم غوښتی ؤ، او تا ته له هغه شر څخه پناه دروړم له کوم څخه چې ستا بنده او پيغمبر پناه غوښتې وه، يا الله! زه له تا څخه جنت او هغه وينا او عمل غواړم چې جنت ته پرې نږدې کېدل کيږي، او له اور او هغې وينا او عمل څخه پناه غواړم چې په هغې سره اور ته نږدې

کېدل کېږي، او له تا څخه غواړم چې هره فیصله (پرېکړه) چې زما په اړه کوې، هغه ماته خیر وګرځوې).

(صحیح). دا دعا پیغمبر صلی الله علیه وسلم عایشې رضي الله عنها ته ښودلې وه، او دا د جامعو (ټول معناوو) دعاګانو څخه ده.

(یا الله! تا ته ستا د نعمت له زوال څخه پناه دروړم، او له دې چې روغتیا مې په ناروغتیا بدله نه شي، او پناه غواړم ستا له ناڅاپه عذاب څخه، او ستا له ټولو غضبونو څخه).

صحیح

(یا الله له تا څخه د نېکیو کولو، او د بدیو د پرېښودلو، او له مسکینانو سره د مینې کولو غوښتنه کوم، او کله چې ته د خپلو بنده ګانو د ازمایښت او عذاب پرېکړه وکړې، نو ما خپل لوري ته دروا خله (مړ مې کړه) پرته له دې چې په فتنې او عذاب اخته شم، او له تا څخه ستا د مینې او د هغه چا د مینې غوښتنه کوم، چې له تا سره مینه کوي، او له هغه عمل سره مینه (محبت) در څخه غواړم، کوم عمل چې ستا مینې ته نږدېوالی کوي).

(حسن صحیح). رسول الله صلی الله علیه وسلم نوروته د دې دعا په ښودلو او یادولو باندې امر کړی.

(اې د آسمانونو او ځمکې او د لوی عرش، پالونکیه (ربه)! او زمونږ او د هر شي ربه، د دانې او زړې چوونکیه، د تورات، انجیل او فرقان نازلوونکیه، پناه دروړم تاته د هر هغه شي له شر نه چې ته یې له پېکې څخه نیسې، یا الله تعالی! ته اول یې له تا څخه مخکې څه نشته، او ته آخر یې له تا څخه

وروسته څه نشته، او ته اوچت یې نو له تا څخه پورته څوک نشته، او ته (د ذات په لحاظ) پټ یې له تا څخه بل څوک پټ نشته؛ زمونږ څخه پور پرې کړه، او مونږ د غریبۍ څخه مالداره کړه).

(صحیح). دا د قرض د ادا کولو او د رزق د پراخوالي دعا ده.

"اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا، اللَّهُمَّ مَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُوَّاتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا"

(یا الله! ستا له ویرې مونږ ته دومره (برخه) راکړې چې زمونږ او د ګناهونو ترمنځ لرې والی پرې راشي، او ستا له تابعدارۍ څخه دومره (برخه) راکړي چې ستا جنت ته مو پرې ورسوې، او له باور (یقین) څخه دومره راکړي چې په هغه سره د دنیا مصیبتونه (ناورینونه) مونږ ته سپک (کم) کړې، یا الله مونږ ته زمونږ په غوږونو، سترګو او ټولو قوتونو تر هغه وخته چې دې ژوند راکړی ګټه راورسوې، او زمونږ انتقام (غچ) یوازې د هغه چا لپاره وګرځوې چې پر مونږ یې ظلم کړی، او مونږ پر هغه چا بریالي کړې چې پر مونږ یې تیری او له مونږ سره یې دښمني کړې ده، او زمونږ مصیبت زمونږ په دین کې مه ګرځوې، او دنیا زمونږ تر ټولو

ستره موخه او فکر مه ګرځوه، همدا راز دنیا زمونږ د علم آخري حد مه ګرځوه، او پر مونږ داسې څوک مه حاکم کوه، چې پر مونږ رحم نه کوي).

(حسن) ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي: (ډېر کم به داسې پيښېدل چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم به له مجلس څخه پاڅېده تر څو چې خپلو ملګرو ته به يې دا دعا نه وه غوښتلې).

(يا الله تعالی ما په ولاړه، ناسته او خوب کې پر اسلام ټينګ وساته، او مه خوشحالوې پر ما هيڅ حسدکوونکی دښمن، يا الله له تا څخه د ټول خير غوښتنه کوم، چې خزانې يې ستا په لاس کې دي، او له هر شر نه چې خزانې يې ستا په لاس کې دي پناه غواړم).

حسن

(اې د زړونو اړوونکيه! زمونږ زړونه ستا پر تابعدارۍ ټينګ کړه).

صحيح

(ای د زړونو نسکورووونکيه!، زما زړه ستا په دين همېشنی (ثابت) کړه)

(صحيح). پيغمبر صلی الله عليه وسلم به دا دعا ډېره زياته ويله.

"اللهم إني أسألك بأن لك الحمد، لا إله إلا أنت المنان، بديع السماوات والأرض، يا ذا الجلال والإكرام، يا حي يا قيوم"

(يا الله زه له تا څخه سوال کوم، بېشکه ته د ثنا او صفت څښتن يې، نشته لايق د عبادت په حقه سره مګر (يوازې) ته يې، ډېر

احسان کوونکی ذات يې، له هيڅ نه د آسمانونو او زمکې جوړوونکی يې، اې د عزت او تعظيم او د پراخه لورينې ذاته، اې همېشه ژوندی ذاته، او اې د ټولو مخلوقاتو واکدار او مالک ذاته).

(صحيح). رسول الله صلی الله عليه وسلم واوريده چې يو سړی دا دعا په خپل لمانځه کې وايي، نو ويې فرمايل: (بېشکه دې سړي له الله تعالی نه د هغه په لوی نامه سره دعا وغوښتله، هغه (نوم) چې کله پرې څه دعا وشي قبلوي يې، او کله چې پرې څه شي وغوښتل شي نو ورکوي يې).

(يا الله! زه تاته سوال کوم، چې بېشکه ته يوازې (واحد) او بې نيازه يې، هغه ذات يې چې نه ترې څوک پيدا شوي او نه د چا نه پيداشوی دی، او هيڅ د ده ببلګه او سيال نه شته، نو ماته زما د ګناهونو بخښنه وکړه، بېشکه ته بخښوونکی مهربان ذات يې).

(صحيح). رسول الله صلی الله عليه وسلم واوريده چې يو سړی په تشهد کې دا دعا کوي، نو ويې فرمايل: (بېشکه هغه ته بخښنه وشوه، بېشکه هغه ته بخښنه وشوه، بېشکه هغه ته بخښنه وشوه).

(يا الله! زه له تا څخه هدايت، تقوی، پاک لمنتوب او مالداري غواړم).

(صحيح). عفاف: له ناروا کارونو څخه ځان ساتل او هغه نه کول، غنی: له خلکو څخه سوال نه کول او له هغه څه نه چې د خلکو په لاسونو کې دي ځان ساتل.

(یا الله! ماته زما تېروتنې او زما ناپوهي وبخښه او په چارو کې بد خرچي کول راوبخښه، او په هغه څه کې چې ته پرې له ما ښه پوهېږې (د هغو بخښنه هم راته وکړه)، یا الله ما ته مې د ټوکو او ریښتیا ګناهونه وبخښه، او زما تېروتنې، او زما په لوی لاس ګناهونه وبخښه، چې دا ټول ګناهونه په ما کې شته دي، یا الله ما ته زما مخکني او وروستني ټول ګناهونه وبخښه، او ما ته مې پټ او ښکاره ګناهونه وبخښه، او هغه ګناهونه چې ته پرې له ما ښه خبر یې، یا الله یقینا ته مخکې کوونکی یې او ته وروسته کوونکی یې، او بېشکه ته پر هر څه برلاسی یې).

صحیح

(اې زمونږ ربه! په دنیا کې مونږ ته ښایسته ژوند راکړې او په اخرت کې هم ښکلی ژوند را په برخه کړې، او مونږ د اور له عذاب نه وساتې).

(صحیح). حسنة الدنیا: دا یو جامع نوم دی د هر خیر، چې بنده یې په دنیا کې ترلاسه کوي، او حسنة الآخرة: د دې نه مراد جنت دی. او دا دعا له هغو دعاګانو څخه ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډېره ویله، لکه څنګه چې انس رضي الله عنه فرمایلي دي. او انس رضي الله عنه به چې کله دعا کوله، نو دا دعا به یې ویله، او دې مختصرو کلماتو د دنیا او آخرت ټول خیرونه راجمع کړي، سره د اور له عذاب نه خلاصون، چې هغه د ټولو نه غټ شر دی.

(یا الله! ته زما رب یې، نشته د عبادت وړ په حق سره پرته له تا څخه، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم، او زه ستا پر

لوظ او ژمنه له خپل توان سره سم ولاړ یم، پناه غواړم پر تا سره له هغه شر څخه چې ما تر سره کړی، اقرار کوم تا ته ستا په هغو نعمتونو چې تا ما ته راکړي او پر خپلو ګناهونو هم اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: او چا چې دا دعا له یقین سره د سهار له خوا وویله، او له شپې وړاندې په همدې ورځ مړ شو، نو هغه جنتي دی، او چا چې دا دعا په یقین سره د شپې له خوا وویله، او له سهار نه مخکې مړ شو، نو هغه جنتي دی).

صحیح

(یا الله! ته زیات بخښونکی پتمن یې، بخښنه خوښوې، نو ماته بخښنه وکړه).

صحیح

(یا الله! له زمونږ سره ستا د ذکر او شکر ادا کولو او ښایسته بندګي کولو کې مرسته وکړه).

صحیح

شپږم: د غم، خفګان، تنګسیا او مصیبت دعاګانې:

"اللهم إني عبدك، وابن عبدك، وابن أَمَتك، ناصيتي بيدك، ماضٍ فيَّ حكمُك، عدل فيَّ قضاؤك، أسألك بكل اسمٍ هو لك، سميتَ به نفسك، أو علمته أحدًا من خَلْقك، أو أنزلته في كتابك، أو استأثرت به في علم الغيب عندك، أن تجعلَ القرآن ربيع قلبي، ونور صدري، وجِلاء حُزني، وذهاب همي"

(یا الله! زه ستا بنده، ستا د بنده او ستا د وینځې ځوي یم، زما تندی (د تندې ویښتان) ستا په لاس کې دي، ستا حکم پر ما جاري دی، ستا پرېکړه زما په اړه عادلانه ده، ستا په ټولو هغو نومونو له تا څخه سوال کوم، چې تا پرې خپل ځان نومولی، او یا دې له خپلو بندګانو څخه چاته ښودلي دي، او یا دې په خپل کتاب کې رالېږلي دي، او یا دې په پټ علم کې له ځان سره ساتلي، دا چې قرآن کریم زما د زړه پسرلی، او زما د سینې رڼا او زما د غمونو لرې کوونکی او زما د مصیبت او پریشانۍ له منځه وړونکی وګرځوه).

(صحیح). پیغمبر صلی الله علیه وسلم یادونه کړې ده: په کار ده څوک چې دا دعا واوري نو یاده یې کړي.

"اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ"

(یا الله! ستا رحمت ته امیدوار یم، نو ما خپل نفس ته د سترګې د رپ په اندازه هم مه سپاره، او زما ټول کارونه برابر کړه، بېشکه پرته له تا د عبادت لایق بل څوک نه شته).

(صحیح). رسول الله صلی الله فرمایلي دي، چې دا د مصیبت زپلي کس له دعاګانو څخه ده.

"لا إله إلا الله العظيم الحليم، لا إله إلا الله رب العرش العظيم، لا إله إلا الله رب السماوات ورب الأرض، ورب العرش الكريم"

(نشته د عبادت وړ پر حقه سره پرته له الله تعالی څخه، چې لوی او صبرناک ذات دی، نشته د عبادت وړ په حقه سره پرته له الله تعالی څخه، چې د لوی عرش څښتن دی، نشته د عبادت

وړ پرته له الله تعالی څخه، چې د آسمانونو او ځمکې رب دی، او د عزتمن عرش رب دی).

(صحيح). او رسول الله صلی الله عليه وسلم به د مصيبت پر مهال همدا (الفاظ) ويل او بيا به يې وروسته دعا غوښتله.

"لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ"

(له تا پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، ته پاک يې، بېشکه زه له ظالمانو څخه وم)

(صحيح). دا د ذي النون (يونس عليه السلام) دعا ده، په داسې حال کې چې هغه د کب په خېټه کې ؤ، رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړی چې هيڅ مسلمان په هيڅ يو کار کې دا دعا نه ده غوښتلې مګر دعا يې قبوله شوې.

اووم: نبوي پناه غوښتونکي دعاګانې:

"اللهم أعوذ برضاك مِن سخَطك، وبمعافاتك من عقوبتك، وأعوذ بك منك، لا أحصي ثناءً عليك، أنتَ كما أثنيت على نفسك"

(يا الله زه پناه غواړم ستا په رضا سره ستا له غصې نه، او ستا په عفوې (بخښنې) سره، ستا له سزا څخه، او پناه غواړم په تاسره له تا څخه، زه ستا پوره ستاينه نه شم کولی، ته هغه شان يې لکه څنګه چې دې د خپل ځان ستاينه کړې).

(صحيح). نووي رحمه الله تعالی په دې کې يوه ښه (باريکه) معنی بيان کړې، او هغه داسې چې هغه الله تعالی پناه وروړې او له هغه يې غوښتي چې ويې ساتي په خپلې رضا سره د هغه له غصې نه او په خپلې عفوې سره د هغه له سزا نه، او رضا او غصه د يوبل ضد او مقابل دي، او

همدارنګه عفوه او سزا ورکول يو د بل ضد دي، او د دې معناه داده: بخښنه غوښتل له کوتاهۍ نه د واجب په تر سره کولو کې د هغه د بنده ګۍ له حق څخه دي او په هغه باندې د ثناء ويلو څخه دي.

"اللهمَّ إنِّي أعوذُ بِك مِن جَهْد البَلاء، ودَرَك الشّقاء، وسُوءِ القضاء، وشَمَاتَةِ الأعْدَاء"

(يا الله! تا ته پناه درووړم له سخت مصيبت څخه، او د راګيرولو د بدبختۍ څخه، او د (تقدير) له بدې فيصلې څخه، او له دې څخه چې دښمنان په ما (زما په مصيبت) خوشحاله شي).

(صحيح). (جهد البلاء): هر هغه تکليف چې انسان ته رسيږي، چې هغه يې د زغملو او لرې کولو توان نه لري. (درک الشقاء): په سختيو او ناچاريو اخته کېدل او د هلاکت اسباب رسېدل. (سوء القضاء): هغه فيصلې او تقدير چې انسان يې نه خوښوي. (شماتة الأعداء): هغه د دښمن خوشحالي ده، کله چې ما ته يو زيان يا مصيبت ورسيږي نو هغه زما پر غم خوشحاله شي.

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ العَجزِ وَالكَسَلِ، وَالجُبنِ وَالبُخلِ، وَالهَرَمِ وَعَذَابِ القَبرِ، اللَّهُمَّ آتِ نَفسِي تَقوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنتَ خَيرُ مَن زَكَّاهَا، أَنتَ وَلِيُّهَا وَمَولاهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِن عِلمٍ لا يَنفَعُ، وَمِن قَلبٍ لا يَخشَعُ، وَمِن نَفسٍ لا تَشبَعُ، وَمِن دَعوَةٍ لا يُستَجَابُ لَهَا"

(يا الله! زه له کمزورۍ، لټۍ،بزدلۍ، بخل، بوډوالي (زوړوالي) او د قبر له عذاب څخه تا ته پناه درووړم، يا الله ته

زما نفس ته د هغه تقوا ورکړې، او هغه پاک کړې ته غوره پاکوونکی یې، ته د هغه دوست او مالک یې، یا الله! زه له بې ګټې علم څخه پناه غواړم، او د داسې زړه څخه چې عاجزي نه کوي (له الله تعالی څخه نه وېرېږي)، او له داسې نفس څخه چې نه مړېږي، او له داسې دعا څخه چې نه قبلېږي).

(صحیح). (زکّها): یعني: پاک یې کړه، او له تا پرته د هغه پاکوونکی بل نه شته، ته (یا الله) پاک یې.

"اللهم إنا نَعوذُ بك من عَذابِ جَهَنّم، وأَعوذُ بِك مِن عَذابِ القَبْرِ، وأَعوذُ بِك مِن فِتْنَة المَسِيْح الدَّجال، وأعوذُ بِك مِن فِتنةِ المَحْيَا والمَمَات"

(یا الله! مونږ پناه غواړو د جهنم له عذاب څخه، او زه پناه غواړم په تا سره د قبر له عذاب څخه، او پناه غواړم په تا سره د مسیح دجال له فتنې څخه، او پناه غواړم په تا سره له هر قسم فتنې د ژوند او مرګ څخه.

(صحیح). او له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعا دوی ته داسې ښودله لکه د قران کریم کوم سورت چې ورته ښایې.

اتم: نبوي ذکرونه:

"سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظیم"

(پاکي وایم د الله تعالی په ستاینې د هغه، پاکي وایم د لوی الله تعالی)

(صحیح). روایتونو کې راغلي چې دا ذکر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو هغو ډېر محبوب ؤ چې لمر پرې راختلی (په دې نړۍ کې دي).

"سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر"
(پاکي وایم د الله تعالی، او ستاینه کوم د الله تعالی، او نشته معبود په حق سره پرته له الله تعالی، او الله تعالی لوی دی).
(صحیح). روایتو کې راغلي چې دا کلام ا الله تعالی ته تر ټولو خبرو ډېر خوښ دی.

له جویریة رضي الله عنها څخه روایت دی:

"أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ، وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا، ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى، وَهِيَ جَالِسَةٌ، فَقَالَ: (مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا؟) قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ)

بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې له کور څخه سهار وختي د سهار لمونځ له کولو وروسته ووت، او دا د خپل لمانځه پر ځای کې وه، بیا د څاښت له لمانځه وروسته بېرته راستون شو، او دا لا (پر خپل ځای) ناسته وه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (ته لا تر اوسه په هغه حالت ناسته یې چې زه در څخه جلا شوم؟) هغې وویل: هو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (له تا وروسته ما څلور کلمات درې ځلې وویل، که چېرې دا د هغه څه سره وتلل شي چې تا نن ټوله ورځ ویلي، نو خامخا به ترې درانه شي: سبحان الله وبحمده، عدد خلقه ورضا نفسه وزنة عرشه ومداد کلماته).
ژباړه: پاکي وایم الله تعالی لره او د هغه ستاینه کوم، د هغه د

مخلوقاتو د شمېر په اندازه او د هغه د رضا په اندازه او د هغه د عرش د وزن په اندازه او د هغه د کلماتو د سیاهي (رنګ) په اندازه.

(صحيح). مسلم روايت کړی.

"لا حول ولا قوة إلا بالله"

(د الله تعالی له مرستې پرته هيڅ حرکت (تغيير) او قوت نشته (نه له ګناه څوک ګرځېدلی شي او نه نيکي تر سره کولای شي)

(صحيح). رواياتو کې راغلي چې دا د جنت له خزانو څخه يوه خزانه ده.

"رضيت بالله ربًّا، وبالإسلام دينًا، وبمحمد نبيًا"

راضي يم چې الله تعالی مې پالونکی (رب) دی، اسلام مې دين دی، او محمد صلی الله عليه وسلم مې پيغمبر دی.

(صحيح). رواياتو کې راغلي چا چې دا دعا وويله نو د هغه لپاره جنت واجب شو.

"لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير"

(له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، هغه يو دی شريک نلري، بادشاهي يوازې د هغه ده او هم د هغه ده، او هغه پر هر څه برلاسی (قادر) دی).

(صحيح). چا چې دا دعا په ورځ کې سل ځله وويله، نو د لسو غلامانو (مريانو) د آزادولو ثواب ورکول کېږي، او سل نيکی به ورته وليکل شي، او سل ګناهونه به ترې لرې شي، او دا (دعا) به په دې ورځ تر شپې پورې له شيطان څخه د ده

لپاره ډال (ساتونکې) وي، او هیڅوک به له دې څخه غوره عمل را نه وړي، مګر هغه سړی چې له ده څخه یې دا ذکر ډېر کړی وي.

"اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ، أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ، أَنْتَ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، أَنْتَ الحَقُّ، وَقَوْلُكَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ الحَقُّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ خَاصَمْتُ، وَبِكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَما أَسْرَرْتُ وَما أَعْلَنْتُ، أنت المقدِّم وأنت المؤخِّر، لا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ولا إِلهَ غَيْرُك"

(یا الله زمونږ ربه! ټول ثنا او ستاینه تا لره ده، ته د آسمانونو او د ځمکې پالونکی یې، او ستاینه او صفت تا ته دی، ته د آسمانونو او د زمکې او هغه څه چې په دې دواړو کې دي، رب (څښتن) یې، او ثنا او ستاینه تا ته دی، ته د آسمانونو او د ځمکې او د هغو څه چې په دې دواړو کې دي نور یې، ته حق یې، او ستا وینا هم حق (رښتیا) ده، او ستا ژمنه هم حق ده، او له تا سره مخامخ کېدل هم حق دي، او جنت هم حق دی، او اور (د جهنم) هم حق دی، او قیامت هم حق دی، یا الله! ما تاته غاړه ایښې ده، او پر تا مې ایمان راوړی، او پر تا مې توکل کړی، او تا ته مې جګړه دروړې، او پر تا فیصله کوم، نو ما ته بخښنه وکړه له هغو ګناهونو چې ما مخکې او وروسته کړي، او هغه چې ما پټ او ښکاره کړي، ته مخکې کوونکی

او وروسته کوونکی ذات يې، نشته په حقه سره معبود پرته له تا، او له تا پرته بل څوک د عبادت وړ نشته).
(صحيح). رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې د شپې تهجد لمونځ کولو، نو دا دعا به يې ويله.
"اللهم لك أسلمتُ، وبك آمنت، وعليك توكلت، وإليك أنَبْتُ، وبك خاصمت، اللهم إني أعوذ بعزتك، لا إله إلا أنت، أن تضلَّني، أنت الحي الذي لا يموت، والجنُّ والإنس يموتون"
(يا الله! ما ستا حکم ته غاړه ايښې ده، او پر تا مې ايمان راوړي، او پر تا مې بروسه کړی، او تا ته راګرځېدلی يم، او ستا لپاره مې جګړه کړې، يا الله! زه ستا پر عزت او ځواک پناه غواړم، نشته په حقه سره معبود پرته له تا ځخه، (پناه غواړم) له دې نه چې ته ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات يې چې هيڅ نه مړ کيږي، او پيريان او انسانان مړه کيږي).
صحيح
"بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ"
(د هغه الله په نامه چې ضرر نشي رسولي د هغه له نوم سره هيڅ يو شی پر ځمکه او نه په آسمان کې او هغه اورېدونکی او پوهه دی).
(صحيح). چاچې دشپې له خوا دا دعا درې ځله وويله، نو تر سهاره پورې به ورته هيڅ شی ضرر ونه رسوي، او چا چې سهار درې ځله وويله، نو تر شپې پورې به ورته هيڅ شی ضرر ونه رسوي.

# فهرست

:د دعا فضیلت او آداب او هغه وختونه چې دعا کول پکې مستحب دي
2..........................................................................................
:دوهم :د دعا آداب او د هغې د قبلېدو لاملونه.............................. 4
:څلورم :قرآني دعاګانې....................................................... 8

ps149v1.0 - 03/09/2026